# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com		www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


از نشریه پیشرو شماره ۴۰

۱۵ سپتمبر ۲۰۱۱

## لیبیا د اور په لمبو کې

دیکتاتور معمر قذافي چې په ۱۹۶۹ کال کې د پوځي کودتا له لارې واک ته ورسید، ۴۲ کاله یې د لیبیا پر کړېدلي او بیوزلي ولس واکمني وکړه. بالاخره د ناټو د بمباریو او د «بنغازي شورا» د بریدونو له کبله له تریپولي څخه وتښتید او ښار یې د «ملي انتقالي شورا» ځواکونو ته خوشې کړ. که څه هم معمر قذافي ته وفادار ځواکونه لاتر اوسه په څلورو ښارونو کې مقاومت کوي، خو هغه څه چې څرګند دي، دا چې ناټو ملا تړلي څو د «ملي انتقالي شورا» په مټ، لیبیا تر خپلي ولکې لاندې راولي.

ناټو چې د سړې جګړې پر مهال د سترو پانګه والو هیوادونو لخوا د ورشو ترون په وړاندې منځ ته راغله، پرته له دې چې د امپریالیستو هیوادونو د ګټو لپاره کار وکړي، بله موخه نه لري. دغه سازمان په ۹۰ لسیزه کې پر بالکان برید وکړ او د زرګونو بې دفاع انسانانو له وژلو وروسته یې د یوګوسلاویا په څیر پرمختللی، متحد او یو موټی هیواد په کنډواله بدل او بیا یې ډرې وړې کړ څو وکړای شي له هر یو څخه د مریي په توګه کار واخلي. ناټو د ۲۰۰۱ کال په پای کې د سپتامبر ۱۱ له پیښې وروسته د امریکا په مشرۍ پر افغانستان برید وکړ، څو زموږ هیوادوالو ته «دموکراسي» راولي. د نوموړي سازمان سرتیرو د بالکان په څیر په افغانستان کې هم زرګونه بې ګناه افغانان په وینو ولړل، لسګونه کلي او سلګونه کورونه یې د بمباریو په ترڅ کې ویجاړ کړل، چې د افغانانو د وژلو او پر کلیو او کورونو د بمباریو دغه لړۍ لا دوام لري.

پر افغانستان له برید وروسته د لیبیا وار راورسید چې د ناټو سرتیرو د دیکتاتورۍ د له منځه وړلو تر نوم لاندې وربانډې برید کړی. پانګه والو هیوادونو له کلونو راهیسې د لیبیا پر تیلو او نورو ځمکنیو زیرمو سترګې سرې کړې وې او د لاسته راوړلو لپاره یې پلمه لټوله. لیبیا ۴۲ میلیارد بیلر (هر بیلر ۱۵۹ لیتر) تیل لري، هره ورځ ۱.۸ میلیون بیلر تیل تولیدوي، د دې هیواد د بدایه غازو زیرمې ۱۵۰۰ میلیارد متر مکعبو ته رسیږي، د سرو زرو د زیرمو ارزښت یې میلیاردونه ډالره دی، د نرۍ د ښناک اوبو تر ټولو ستره زیرمه لري چې پنځه زره کلن تاریخ لري او ارزښت یې د دې هیواد د تیلو او غازو پنځه چنده دی. په لیبیا کې لا جګړه روانه ده، خو ستر پانګه وال

شرکتونه لکه د فرانسي د تيلو توټل شرکت سهم له ۳ څخه ۴ ته لوړ شو، دا په دې معنا چې پانگه والو د ليبيا د زيرمو او پانگو داړلو ته غاښونه تيز کړي.

ليبيايي ولس له دومره زيرمو او پانگې سره سره د معمر قذافي د واکمنۍ پر مهال له ډول ډول ستونزو سره مخامخ و او نوموړي په ۴۲ کلونو کې پر استبداد او ديکتاتورۍ خپل حکومت وساته او ويې ونکړای شول چې خپل ولس ته سوکاله ژوند برابر کړي. وروسته له دې چې د افريقا په شمال او منځني ختيځ کې عربي هيوادونه د خپلو مستبدو دولتونو پر ضد راپاځيدل، د ليبيا ولس هم له دې کاروان سره مل شو څو د معمر قذافي د ديکتاتورۍ، استبداد او ظلم ۴۲ کلنه واکمني پای ته ورسوي، خو د ولسونو دقيام او پاڅون اړخ د ناټو او سترو پانگه والو هيوادونو لخوا د ليبيا د تيلو او نورو سرچينو د لاسته راوړلو لپاره بدل شو او ولسونه ورڅخه جلا شول. اوس يوازې د ليبيا بنسټپال او ناټو په گډه د ټولې خاورې د نيولو هڅه کوي.

ناټو د مارچ له ۳۱ څخه د اگست تر ۲۱ پورې له ۱۹۷۵۱ څخه زيات هوايي بريدونه تر سره کړل او په دې ترڅ کې د دې هيواد د اوبو سيستم په سلو کې ۸۰ له منځه تللی، د اکثرو ښارونو برښنا بنده شوې؛ ودانۍ، روغتونونه، ښوونځي، پلورنځي او دولتي اداري او نور عام المنفعه تاسيسات له منځه تللي. د برغلگرو د بريدونو له پيله تر اوسه د ۵۰۰۰۰ په شاوخوا کې بې دفاع ليبياييان وژل شوي، ۱۲۰ زره ټپيان او ۵۰۰ زره کډوالۍ ته اړ شوي.

پانگه والو هيوادونو پر ليبيا باندې د بمبارۍ پر مهال د دې هيواد شتمني کنگل کړه، په داسې حال کې که چيرې دوی له ليبيايي ولس څخه د ملاتړ هدف درلودلای، نو يوازې د قذافي او کورنۍ او د دولت د جگپوړو چارواکو شتمني يې بايد کنگل کړې وای، نه د ټول هيواد. په هماغه وخت کې هوگو چاويز وويل: دغه تحريم له ولس څخه ملاتړ کولو سره تړاو نه لري او موخه يې نړيوال بانک او د پيسو نړيوال صندوق ته بيرته انحصار ورکول دي.

دا د هر هيواد د ولس دنده ده چې مستبد او ديکتاتور رژيم ړنگ کړي، نه دا چې له بهر څخه داسې يو سازمان يا هيوادونه چې په خپله د جنايتونو او خيانتونو تور تاريخ لري، د ديکتاتورۍ د له منځه وړلو په پلمه پر آزاد او خپلواک هيواد يرغل وکړي او ولسونه يې په وينو او خاورو ولړي. ناټو او ستر پانگه وال هيوادونه به پر ليبيا باندې د يرغل له لارې يوازې هغه هيواد په کنډواله بدل کړي او د قذافي د دولت پرځله به ليبياييان له لا زياتو ستونزو، کړاونو او ربړونو سره مخامخ کړي.